**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۰**　　**نېټه: ۴ / ربیع الاول / ۱۴۴۵ هـ ق | برابره ده له: ۲۸/سنبله/۱۴۰۲ هـ ش**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه محکمو او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

و بعد: په ۲۰/محرم الحرام/۱۴۴۵ هـ ق نېټه، چې ۱۵/زمري/۱۴۰۲ هـ ش سره برابره ده، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې عالي شورا غونډه د محترم قاضي القضات او د سترې محکمې رئیس صاحب په مشرۍ جوړه شوه چې د یادې غونډې دیارلسمه موضوع داسې وه: ((د سترې محکمې د تجارتي دیوان استهداء رارسېدلې چې لنډیز یې په لاندې ډول دی: کله چې یو مدعي پر مدعي علیه باندې په څو مستقلو موضوع ګانو، لکه (قرضه حسنه، غصب اویا ګروي) کې د ولسوالیو په ابتدائیه محکمو کې دعوه اقامه کړي او د ولسوالیو ابتدائیه محکمې درې واړه مستقلې موضوع ګانې په یوه فیصله کې بررسي او حکم پر صادر کړي، هرکله چې دغه فیصله د تمیز تجارتي دیوان ته ورسېږي، تجارتي دیوان د یوې موضوع د حل او فصل واک لري او پاتې موضوع ګانو ته د رسېدنې صلاحیت نه لري، په اړه یې څه ډول اجراأت وشي؟))

د سترې محکمې محترمې عالي شورا د ۲۰/محرم الحرام/۱۴۴۵ هـ ق نېټې، چې ۱۵/زمري/۱۴۰۲ هـ ش سره برابره ده، د دویم تصویب د دیارلسمې پرېکړې په بنسټ په دې اړه داسې هدایت وکړ:

((که یو مدعي پر مدعي علیه باندې په څو مستقلو موضوع ګانو، لکه (قرضه حسنه، غصب او/یا ګروي) کې د ولسوالیو په ابتدائیه محکمو کې دعوه اقامه کړي، په دې صورت کې دې د ولسوالیو ابتدائیه محکمې د هرې مستقلې موضوع لپاره جلا پرېکړه صادره کړي او څو موضوع ګانې دې په یوه پرېکړه کې نه یوځای کوي.))

بناءً، د سترې محکمې د عالي شورا د محترم مقام پورتنی لیکلی هدایت د دې متحدالمآل په واسطه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې اړونده تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو ته واستول شو تر څو یې په رڼا کې شرعي او اصولي اجراأت وشي.

**په درناوي**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء عمومي رئیس**

**ستره محکمه**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.